WFP
World Food Programme | Programme Alimentaire Mondial | Programa Mundial de Alimentos | برنامج الأغذية العالمي
wfp.org

دخوړونړيوال پروګرام مطبوعاتي اعلاميه

د۲۰۱۵ م کال د اپريل ۱۵ مه

فرانسه په افغانستان کې دخوړو نړيوال پروګرام بيړنيو حالاتو دځواب ويلو هڅې غښتلي کوي او په ورته وخت کې دسيمه ايز اقتصاد سره مرسته کوي

کابل - کابل – دفرانسې حکومت د خوړو نړيوال پروګرام (WFP) سره د ۴۰۰،۰۰۰ يورو (۴۲۴،۰۰۰) امريکايي ډالرو د مرستې اعلان وکړ چې ددغې اداري لخوا به په ۲۰۱۵ کال کې په افغانستان کې بيړنيو حالاتو ته دځواب ويلو پرمهال لګول کيږي. دغه اعلان نن په رسمي توګه په کابل کې د فرانسې په سفارت کې د لاسليک په هغه غونډه کې وشو چې د فرانسې حکومت او د خوړو نړيوال پروګرام لوړپوړو استازو پکې برخه اخيسته وه.

دفرانسې له دغه مرستې سره به د خوړو نړيوال پروګرام له طبيعي او غير طبيعي پېښوڅخه اغيزمن شوو ۴۵،۰۰۰ کسانو لپاره له سيمه ايزو سرچينو څخه ترلاسه شوي خوراکي توکي پرهغوی د ويش لپاره ولیږدوي.

له دغې مرستې سره به د خوړو نړيوال پروګرام چيرته چې شونې وي له کوچنيو بزګرانو او د بزګرانو له ټولنو څخه غنم او دافغانستان په ختيځ دجلال آباد په بنار کې د يوچار ځای (فابريکې) لخوا توليد شوي د لوړې انرژۍ لرونکي بيسکوټ وپيري.

په افغانستان کې د خوړو نړيوال پروګرام (WFP) استازي اورئيس بناغلي کلود جيبيدار په دې اړه وويل: " موږ ددغو مرستو هرکلی کوو نه يوازې ددې لپاره چې چې دژوند ژغورنې په موخه په بيړنيو سختو حالاتو کې دخوراکي توکو د برابرولو شونتيا رامنځته کوي. دغه مرستې له سيمه ايزو بزګران او تجارت څخه هم ملاتړ کوي، ځکه WFP به دلوړې انرژۍ لرونکو بيسکوټو په ګډون ټول خوراکي توکي له سيمه ايزو سرچينو څخه ترلاسه کړي" .

دغه راز په افغانستان کې د فرانسې سفير بناغلي ژان ميشل مارلود وويل: " فرانسه په افغانستان کې د WFP د پروخت او اغيزمنو بشري مرستو څخه خوښي څرګندوي، کومې چې د ۲۰۱۴ کال د پسرلي

دسیلابونو پرمهال او د پاکستان څخه د کډ والو د را بهېدو پرمهال يې مرستې ښې بېلګې دي. مګر دنړۍ تودوخې ته په پام سره انګرېنه داده چې په راتلونکې کې به دغه راز ناورینونه ډېر شي. په دې توګه افغان چارواکي باید په همغه کچه داقلیم د بدلون په اړه اندېښمن واوسي په کوم چې د ناورین د قربانیانو په اړه اندېښنه لري".

بېړنیو حالاتو د ځواب ویلو پرمهال له سیمه ایزو سرچینو څخه د خوراکي توکو برابرول WFP ته تر ټولو د چټکې، اغیزمنې او د ډاډ وړ موقع په مانا ده. دخوړو نړیوال پروګرام غنم په نېغه توګه له کوچنیو بزګرانو څخه چېرته چې شونتیا ولري ترلاسه کوي، دافغانستان د غلې مارکېټ غښتلی کوي او دتولید کوونکو لاسرسۍ ورته شونی کوي.

په ۲۰۱۵ م کال کې په افغانستان کې د خوړو نړیوال پروګرام په پام کې لري ۳،۴ میلیونه اړمنو افغانانو ته دبیلابیلو پروژو د پلي کولو له لارې لکه د عامه شتمنیو رغول، په ښوونځیو کې زده کوونکو ته د خوراکي توکو وېشل، د مسلکي زده کړو، تغذیې او دخوراکي توکو دکوپون له لارې، د هېواد په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د خوراکي توکو مرستې ورسوي

# # #

دخوړو نړیوال پروګرام (WFP) په اړه:
دخوړو نړیوال پروګرام دنړۍ په کچه ترټولو ستره بشري اداره ده چې د لوږې پروړاندې نړیواله مبارزه کوي، د بېړنیو حالاتو پرمهال د خوراکي توکو مرستې رسوي او له ټولنو سره دغوره تغذیې او د طبیعي پېښو پروړاندې د هغوی د وړتیا د لوړلو په برخه کې کار کوي. هر کال د خوړو نړیوال پروګرام نیژدې ۸۰ میلیونه خلکو ته په ۷۵ هېوادونو کې مرستې رسوي.

دخوړو نړیوال پروګرام په افغانستان کې د۱۹۶۳ م کال راهیسې په دې موخه کار کوي ترڅو د افغانانو سره د هغوی او د هېواد لپاره يې له لوږې څخه د خوندي راتلونکې په جوړولو کې مرسته وکړي. دخوړو نړیوال پروګرام خوراکي توکي د قوم ، مذهب او سیاسي لید لوري په پام کې نیولو پرته یوازې د اړتیا پر بنسټ وېشل کېږي.

په افغانستان کي د خوړو نړيوال پروګرام دخوراکي توکو د مرستو د ويش په اړه د شکايتونو د اورېدو يوه شمېره فعال کړي او دنظرونو، شکايتونو او نيوکو ترلاسه کول په وړين تندي مني. دغه شمېره ده : ۰۷۹۰۵۵۵۵۴۴

دنورو مالوماتو لپاره له لاندې کسانو سره اړيکه ونيسئ:

کيکو ايزوشي، WFP /کبل، +93(0)706-004-885 ، kekio.izushi@wfp.org
وحيدالله اماني، WFP /کابل، +93(0)706-004-884 ، Wahidullah.amani@wfp.org
فضه حسيني، WFP /کابل، +93(0)706-004-847 ، Fezeh.hosseini@wfp.org